# د افغـــــانستان اســـــلامي امـــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست


**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۲۲ / جمادی الثاني /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۵ / جدی /۱۴۰۲هـ، ش**

# د اسلام له نظره د سوالګرۍ قباحت او بدې او په مخنيوي کې يې د اسلامي حکومت مسئوليت

الحمد لله رب العالمين، والصـــلاة والســـلام على خير خلق الله أجمعين، محمد بن عبد الله الصـــادق الأمين، وعلى أله وصحبه والتابعين.

ســـوالګري ډير بد او خطرناک ټولنيز عمل او مرض دی چې په نړۍ کې هيڅ ځای ددې مرض څخه خالي نه دی. سوالګري هغه ناوړه او قبيحه عمل دی چې د ټولنې او خلکو رنګه بده وي او سوالګر هم ځان ذليله کوي ، ددې وجی نه په ا سلامي شريعت کې د سوالګرۍ ذم او قباحت بيان شوی دی او په ځينو دولتونو کې سوالګري جرم ګڼل کيږي او په دې اړه د ځينو دولتونو په قوانينو کې سوالګرو لپاره جزاګانې ټاکل شوي دي. دځينو خلکو سوالګري د غلا څخه هم بدتره ده.

## په اسلام کې د سوالګرۍ قباحت او بدي

الله تعالی انسان اشرف المخلوقات پيدا کړی دی او د انساني کرامت څخه يې برخمن کړی دی؛ ددې وجی نه دا سلام مقدس دين سوالګري حرامه ګرځولی ده ؛ ځکه چې دا کار پرته دد نورو خطراتو څخه د انساني کرامت مخالف عمل دی او ذلت دی او په شرعي نصوصو کې سوالګري کبيره ګناه ګرځول شوی ده. سوالګري چې په هرشکل او لفظ سره وي حرام کار دی ، که هغه په بازار او سرک باندې د سوال غوښتلو په شکل وي، يا د مر ستې او کومک غوښتلو په شکل کې وي او يا هم د چندې غوښتلو په شکل کې وي؛ ځکه دټولو مفهوم يو دی.

**الف: قرآن کريم :** په قرآن کريم کې د ســوالګرۍ مذمت بيان شــوی دی او مســلمان بايد د خپل عفت خيال وســاتي او سوالګري ونه کړي.الله تعالی فرمايي: {لِلْفُقَرَاءِ الَّذِينَ أُحْصِرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا يَسْتَطِيعُونَ ضَرْبًا فِي الْأَرْضِ يَحْسَبُهُمُ الْجَاهِلُ أَغْنِيَاءَ مِنَ التَّعَفُّفِ تَعْرِفُهُمْ بِسِيمَاهُمْ لَا يَسْأَلُونَ النَّاسَ إِلْحَافًا وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ} [البقرة: ۲۷۳].

ترجمه:- (خيراتونه) د هغو فقيرو کسانو لپاره دي چې دالله په لاره کې ايسار کړی شوي دي په ځمکه کې د سفر کولو وس نلري د ښــه عفت (د ســوال نه دځان ســاتلو) په وجه نا خبره کس پر دوی د غنيانو ګمان کوي ته به دوی په خپلو علامو (سره) پيژني دوی له خلکو څخه په سختۍ سره سوال نکوي او هغه چې تاسو يې له مال څخه لګوئ نو يقيناً الله پر هغه باندې ښه عالم دی.

ددې مبارک آيت په تفسير کې عبدالله بن عباس رضي الله عنه فرمايي: (لا يسألون الناس إلحافا ولا غير إلحاح) بحر العلوم (۱/ ۲۰۶)

نه په الحاح سره سوال کوي او نه په غير الحاح سره. ځکه چې سوال کول د تعفف خلاف عمل دی.

علامه شنقيطي وايي:(وتدل-الاية- بمفهومها على ذم سؤال الناس). أضواء البيان (٤/ ٣٠٩)

ددې مبارک مفهوم د سوال کولو په مذمت دلالت کوي.

هر شخص شرعا انساني کرامت لري او سوال د انساني کرامت مخالف کار دی چې ناروا دی.
الله تعالی فرمايلي دي: (وَلَقَدْ كَرَّمْنَا بَنِي آدَمَ) الإسراء:١٧.
ترجمه:- او يقينا چې مونږ عزت ورکړی دی بني آدم ته.
په الموسوعة الفقهية الكويتية کې راځي:( يَحْرِصُ الإْسْلاَمُ عَلَى حِفْظِ كَرَامَةِ الْمُسْلِمِ ، وَصَوْنِ نَفْسِهِ عَنِ الاِبْتِذَال وَالْوُقُوفِ بِمَوَاقِفِ الذُّل وَالْهَوَانِ ، فَحَذَّرَ مِنَ التَّعَرُّضِ لِلصَّدَقَةِ بِالسُّؤَال ، أَوْ بِإِظْهَارِ أَمَارَاتِ الْفَاقَةِ( الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٤/ ٩٧)
ترجمه:- اسلام دانساني کرامت په ساتنه ټينګار کوي او ټينګار کوي په ساتلو د نفس د انسان له ذلت څخه او د ذلت او سپکاوي په مواقفو کې د له دريدلو ، ځکه يې ممانعت کړی دی ځان وړاندې کول صدقې ته په سوال کولو او يا په ښکاره کولو د ولږې سره.
سوالګري کول او دا کار د مال د جمع کولو لپاره وسيله ګرځول دا دمسلمان د ايماني باور په ضعف دلالت کوي ؛ ځکه مسلمان بايد دا عقيده ولري چې د ټولو انسانانو روزي او رزق د الله تعالی له لوري دی او انسان بايد دالله روزي د حلالو لارو څخه ولټوي. الله تعالی فرمايلي دی:{ وَمَا مِنْ دَابَّةٍ فِي الْأَرْضِ إِلَّا عَلَى اللَّهِ رِزْقُهَا وَيَعْلَمُ مُسْتَقَرَّهَا وَمُسْتَوْدَعَهَا كُلٌّ فِي كِتَابٍ مُبِينٍ} [هود: ٦].
ترجمه:- او په ځمکه کې هيڅ خوځنده (ذي روح) نشته مګر دهغه رزق خاص په الله باندې دی او هغه دهغه د او سيدلو ځای او دهغه دسپاريدلو ځای پيژني (دا) هرڅه په واضح کتاب کې (ليک) دي.
امام ابن کثير وايي: (أخبر تعالى أنه متكفِّل بأرزاق المخلوقات، من سائر دواب الأرض، صغيرها وكبيرها، بَحْرِيِّها، وبَرِّيِّها).
ترجمه:- الله تعالی فرمايي چې دی د ټولو مخلوقاتو د رزقونو متکفل دی، دټولو هغو ژونديو لپاره چې په ځمکه ګرځي ، واړه او لوی، په بحر کې او په وچه کې.
په يو بل آيت کې الله جل جلاله فرمايلي دی:{وَفِي السَّمَاءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ*فَوَرَبِّ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِنَّهُ لَحَقٌّ مِثْلَ مَا أَنَّكُمْ تَنْطِقُونَ} [الذاريات: ٢٢، ٢٣].
ترجمه:- او په آسمان کې ستاسو روزي ده او هغه څه چې تاسو سره يې وعده کولی شي نو د آسمان او ځمکې په رب مې قسم دی چې بيشکه دا (خبره) يقيناً حق ده چې د هغې په شان ده چې تاسو خبرې کوی.
په دې ايت کې داخبره دومره په تاکيد ذکر شوی ده چې الله تعالی قسم خوري چې دا خبره دومره يقيني او حق ده لکه تاسې چې خبرې کوی.

**ب: سوالګري په نبوي آحاديثو کې:**

د حاجت او ضرورت پرته ســوالګري کول ګناه ده ، دالله تعالی په حق کې ظلم دی ځکه يواځې د هغه نه ســوال کول په کار دي او د الله تعالی څخه پرته دبل چا څخه سوال کول د خپل ځان ذلت دی.

په بې شميره نبوي احاديثو کې د سوالګرۍ څخه منع راغلی ده او سوالګري يو ناوړه او قبيح عمل په ګوته شوی دی.

په يو حديث شريف کې راځي رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:( عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّهُ سَمِعَ أَبَاهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-:مَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَسْأَلُ النَّاسَ، حَتَّى يَأْتِيَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَيْسَ فِي وَجْهِهِ مُزْعَةُ لَحْمٍ). متفق عليه

ترجمه:- د حمزه بن عبدالله بن عمر څخه روايت دی هغه وايې چې ماد خپل پلار څخه واوريدل چې ويل يې چې ر سول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: هميشه به يو سړی دخلکو څخه سوالګري کوي، آن تردې چې په آخرت کې به په داسې حال کې راشي چې په مخ باندې به يې دغوښې ټوټه نه وي.

ددې حديث په شرح کې امام نووي رحمه الله ليکلي دي: سوالګر به د آخرت په ورځ کې په دا سې حال کې راشي چې ذليله به وي او له الله تعالی سره به يې هيڅ مخ نه وي او يا داچې په حقيقي معنا سره مخ به يې يواځې هډوکي وي او غوښه به ورباندې نه وي.[شرح النووي]

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ (صلى الله عليه وسلم): ( مَنْ سَأَلَ النَّاسَ أَمْوَالَهُمْ تَكَثُّرًا فَإِنَّمَا يَسْأَلُ جَمْرًا ، فَلْيَسْتَقِلَّ أَوْ لِيَسْتَكْثِرْ ). صحيح مسلم

ترجمه:- دابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه وايي چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم فرمايلي دي: څوک چې دخلکو څخه دهغوی مالونه په ســوال غواړي په دې موخه چې مال يې زيات شي، بيشــکه داســې شــخص د اور دسکروټې سوال کوي يا خو دې کمې کړي(سکروټې) او يا دې زياتې کړي (سکروټې).

په يو بل حديث شريف کې راځي: د عوف بن مالک اشــجعي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې مونږ ته ر سول الله صلی الله عليه و سلم وفرمايل: آيا تا سو دالله تعالی در سول - صلی الله عليه و سلم- سره بيعت نه کوی؟ مونږ ورته وويل: -او مونږ نوی دپيغمبرعليه الســلام سره بيعت کړی ؤ- مونږ درسره بيعت کړی دی ای دالله رســوله! پيغمبر عليه السلام بيا وفرمايل: آيا تا سو دالله تعالی در سول – صلی الله عليه و سلم – سره بيعت نه کوی ؟ مونږ خپل لا سونه خواره کړل او عرض مو وکړ: مونږ درسره بيعت کړی دی په کوم شي درسره بيعت وکړو ای دالله تعالی رســوله ؟ پيغمبر عليه السلام وفرمايل:( عَلَى أَنْ تَعْبُدُوا اللهَ وَلاَ تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئاً ، وَالصَّلَوَاتِ الخَمْسِ وَتُطِيعُوا الله ) وأَسَرَّ كَلِمَةً خَفِيفَةً (وَلاَ تَسْأَلُوا النَّاسَ شَيْئاً ) صحيح مسلم

ترجمه:- په دې خبره راسره بيعت وکړئ چې دالله تعالی عبادت به کوئ او شريک به ورسره نه نيســئ او پنځه لمونځ به کوئ او دالله تعالی اطاعت به کوئ . بيا هغه په کلاره په آهسته اواز وويل: او دخلکو څخه هيڅ شی مه غواړئ.

د اســلام مبارک دين دخپل حاجت او اړتيا دپوره کولو لپاره انســانان کار او کســب ته هڅولي او وربللي دي؛ ترڅو خلک دخپلو اړتيا پوره کولو لپاره سوالګرى ته مخه نه کړي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم د سوالګرۍ پرځاى خپل امت کار او کسب ته هڅولي دي . په حديث شريف کې راځي:
(عَنْ ابي هريرة قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ( صلى الله عليه وسلم ) يَقُولُ : (لأَنْ يَغْدُوَ أَحَدُكُمْ فَيَحْطِبَ عَلَى ظَهْرِهِ فَيَتَصَدَّقَ بِهِ وَيَسْتَغْنِيَ بِهِ مِنَ النَّاسِ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَسْأَلَ رَجُلاً أَعْطَاهُ أَوْ مَنَعَهُ ذَلِكَ ، فَإِنَّ الْيَدَ الْعُلْيَا أَفْضَلُ مِنَ الْيَدِ السُّفْلَى) متفق عليه

ترجمه:- له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: داچې په صبايي کې يو څوک له تاسو څخه لاړشي او لرګي راټول کړي او په ملا باندې يي راوړي او بيايي خرڅ کړي او پيسې يوڅه يي خيرات کړي او په دې سره دخلکو څخه بې پروا شي له خلکو يعنى اړتياوى وربا ندې پوره شي دا کار ددې څخه غوره دی چې له يو سړي څخه سوال وکړي يا به يي ورته ورکړي او يابه يي ورنه کړي، ځکه اوچت لاس( خيرات ورکوونکى) بهتره دى دټيټ لاس (خيرات اخيستونکي) څخه.

په يو بل حديث شريف کې راځي: (عَنْ الْمِقْدَامِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ رَسُــولِ اللَّهِ صَــلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَــلَّمَ قَالَ : مَا أَكَلَ أَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ أَنْ يَأْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ، وَإِنَّ نَبِيَّ اللَّهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ، كَانَ يَأْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدِهِ) صحيح البخاري .

ترجمه:- حضرت مقداد رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت نقل کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: نه دى خوړلى هيچا داسې طعام چې هغه دى دده دخپل لاس ګټلي طعام څخه غوره وي او داود عليه السلام به دخپل لاس ګټلي مال څخه خوراک کاوه.
همدا راز داسلام مقدس دين دهغه چا لپاره سوال کول حرام ګرځولى دى چې روغ رمټ وي دکار او کسب توان ولري او بياهم سوالګري کوي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې د سوالګر په مخ به د قيامت په ورځ لکيرې او داغونه وي .په حديث شريف کې راځى: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ سَأَلَ النَّاسَ وَلَهُ مَا يُغْنِيهِ جَاءَ يَوْمَ القِيَامَةِ وَمَسْأَلَتُهُ فِي وَجْهِهِ خُمُوشٌ، أَوْ خُدُوشٌ، أَوْ كُدُوحٌ). سنن الترمذي

ترجمه:- د عبدالله ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې ر سول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي: چاچې دخلکو څخه سـوال وکړ او له ده سره هغه څه ؤ چې ضرورت يي وربانديې رفع ؤ، دقيامت په ورځ به راشي او سوالګري به يي په مخ کې دلاس شوکو او لکيرو په شان داغونه وي او يا به دچيچلو په څير داغونه وي.

په حديث شريف کې راځي چاچې د سوالګرۍ دروازه برسيره کړه الله تعالى به وربانديې د فقر دروازه برسيره کړي.

(عن أبي كبشة الأنماري: أنه سمع رسول الله صلَّى الله عليه وسلَّم يقول: ثلاثة أُقسِم عليهن، وأحدثكم حديثًا فاحفظو)، قال: ما نقص مالُ عبدٍ من صدقة، ولا ظُلِم عبدٌ مظلمةً فصبر عليها إلا زاده الله عزًّا، ولا فتَح عبدٌ بابَ مسألة إلا فتح الله عليه بابَ فقر). رواه الترمذي

ترجمه:- ابو کبشــه انمارى رضي الله عنه وايې چې ما د رســول الله صــلى الله عليه وســلم څخه واوريدل چې وه يې فرمايل: درى خصلتونه دي چې زه وربانديې قسم خورم او تاسو ته حديث بيانوم دا ياد کړئ وه فرمايل: نه دى کم شوى

مال د بنده په صـدقې سره او په بنده باندې ظلم نه دی شـوی چې هغهورباندې صـبر وکړي مگر زيات به يي کړي الله عزت دده او نه ده برسيره کړی يو بنده دروازه د سوالگرۍ مگر برسيره به کړي الله ده ته دروازه د فقر.

سوالگر په سوال کولو سره خپل ځان ذليلوي، هغه کار چې اسلام ورڅخه منع فرمايلې ده.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (لاَ يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ) أخرجه الترمذي.

ترجمه:- مناسب نه ده مسلمان ته چې ځان ذليل او خوار کړي.

په حديث کې شريف کې راځي چې مستحق سړی کولی شي چې د ضرورت پر وخت له حاکم څخه سوال وکړي.

( عَنْ سَمُرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ: الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ إِلاَّ أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِى أَمْرٍ لاَ يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا). سنن أبى داود-ن (٢/ ٣٩)

ترجمه:- سوالونه کول زخمونه دي چې زخمي کوي ورباندې سړی خپل مخ ،(يعنې چا ته لاس غوړول خپل عزت او ابرو د خاورو سره خاورې کوي) که د چا خوښــه وي پری دې ږدي دا زخمونه په خپل مخ باندې او که د چا خوښــه شي پری دې دې ږدي ، مگر دا چې سوال وکړي سړی د حاکم څخه او يا په دا سې کار کې سوال وکړي چې نه وي چاره دده له هغه نه.

توضـــيح : کدوح : د کدح يکدح د فتح يفتح نه څخه دی چې دمخ خاربنې ته وايي دخپل لاس په نوکانو باندې خپل مخ گرولو سره مخ زخمي کول مراددي.

ملا علي القاري رحمه الله ددې حديث د (ذا ســـلطان) په شرح کې وايي: ( ذا ســـلطان أي حكم وملك بيده بيت المال فيسأل حقه فيعطيه منه إن كان مستحقا) مرقاة المفاتيح (٦/ ١٥٦)

يعنې د هغه حاکم او بادشـــاه څخه دې وغواړئ چې دهغه په لاس کې بيت المال دی ، ســـوال دې ورڅخه وکړي تر څو ورکړي يې ورته له بيت المال څخه که چيرې مستحق وي.

د ذا سـلطان:نه مراد د ملک لوي حاکم هم مراد کيدی شي او د لوي حاکم واړه حکمرانان مثلا والي يا وزير يا قاضي هم مراد کيدلی شي.د حديث مطلب دا دی چې که ته خامخا سـوال کوي نو بيا کم نه کم د داسي سـړي نه يې وکړه چې په هغې ســـتا حق هم وي او هغه حاکم يا د هغې نائب وي.چې په واک کې يې بيت المال وي او په بيت المال کې دهر مسلمان حق دی که چيری هغه تامستحق وگڼي نو دربه يې کړي.

## ج: د فقهاوو اقوال:

امام نووي رحمه الله وايي: (اتفق العلماء على النهي عن السؤال من غير ضرورة). مسلم بشرح النووي١٠/٤٠٨

ترجمه:- پرته له ضرورته ټولو علماوو د سوال کولو څخه په نهې اتفاق کړی دی.

حجة الاســـلام امام غزالي رحمه الله وايي: الســـؤال حرام في الأصـــل، وإنما يباح للضرورة، وإنما قلنا: إن الأصـــل فيه التحريم؛ لأنه لا يخرج عن ثلاثة أمور محرمة:

الأول: الســـؤال إظهار الشـــكوى من الله تعالى؛ إذ الســـؤال إظهار للفقر، وذكر لقصـــور نعمة الله تعالى عنه، وهو عين الشكوى.

الثاني: السؤال فيه إذلال السائلِ نفسَه لغير الله تعالى، وليس للمؤمن أن يُذِلَّ نفسه لغير الله، بل عليه أن يُذِلَّ نفسه لمولا.

الثالث: السؤال لا يخلو من إيذاء المسؤول غالبًا. (إحياء علوم الدين ـ للغزالي ۲۲۳/۴مختصراً.).

ترجمه:- سوالګري په اصل کې حرام دی خو د ضرورت په وخت کې مباح دی. مونږ وويل چې په اصل کې سوالګري حرامه ده ځکه چې سوالګري ددرې خبرو څخه خالي نه وي:

۱- په سوالګرۍ کې د الله تعالی څخه شکايت وي؛ ځکه په سوالګرۍ کې اظهار د فقر وي او دالله تعالی د نعمتونو د قصور بيانول وي چې دا عيناً دالله تعالی څخه شکايت دی.
۲- په سوالګرۍ کې سوالګر ځان ذليله کوي د غير الله لپاره او مؤمن ته دا جائز نه دي چې پرته دالله تعالی څخه دبل شي لپاره ځان ذليله کړي؛ بلکې پرده لازم دي چې ځان ذليله کړي يواځې خپل مولا ته.
۳- د سوال پر وخت غالبا مسئول شخص(له چانه چې سوال غوښتل کيږي) د ضرر څخه خالي نه وي.
حنفي مجتهدين وايي: دچا سره چې ديوی ورځې روزي وي سوالګري ورته جائز نه ده.
امام سرخسي رحمه الله ليکلي دي:(وإن كان المحتاج بحيث يقدر على التكسب فعليه أن يكتسب ولا يحل له أن يسأل) [الكسب والمحيط]
ترجمه:- او که چيرې محتاج شخص دا سې څوک ؤ چې دکسب توان يي درلود، په دا سې شخص لازم دي چې کسب وکړي او سوالګري ورته جواز نلري.

امام زيلعي رحمه الله فرمايي: د چا په کور کې چې دلماسپښين اوماښام خوراک وي ددغه وختونو دخوراک لپاره سوالګري ورته حرامه ده، په حديث کې راځي چې دچا سره چې څلويښت درهمه وي او يا څوک چې روغ او سالم وي او کسب ولري سوالګري ورته جواز نلري.[التبيين]

## د سوالګرۍ اسباب:

د سوالګرۍ ځينې اسباب په لاندې ډول دی:

۱- د الله تعالی له طرفه د مقرر رزق او رزوۍ باندې بې باوري او په دې برخه کې کمزورۍ عقيده.

۲- په ټولنه کې د فقر او بې وزلۍ موجوديت.

۳- په ټولنه کې د بې کاره او تنبلو اشخاصو شتون.

۴- د دولت له خوا د همکارۍ او تکافل اجتماعي نشتوالی او د ټولنيز عدالت نه شتون.

۵- ځينې خلک راحت ته پر زحمت ترجيح ورکوي د همدې وجی نه سوالګري بې زحمته ګټه يې حرفه ګرځولي وي.

۶- ځينې شتمن خلک زړه سواندې وي او سوالګرو ته پيسې ورکوي ، ددې امله ځينې خلک دا کار جاېز بولي او ورته مخه کوي.

**۷- د کاري فرصتونو کموالی.**

## د سوالگرۍ په مخنيوي کې د اسلامي حکومت مسئوليت:

په هره ټولنه کې داسې اړمن او محتاج خلک شته چې د نورو مرستو ته اړتيا لري او که چيرې ددوی مرستې ته د قانون له لارې رســيدگي ونه شي بيا دوی د خپل ژوند او ضرورتونو د پوره کولو لپاره ســوالگرۍ ته مخه کوي او په ټولنه کې داسې بيکاره او راحت طلبه خلک هم شته چې د کار او کسب پرځای سوالگرۍ او مفت خورۍ ته مخه کوي، داسلامي حکومت دنده ده چې د اړمنو ســوالگرو مشــکلاتو ته رســيدگي وکړي او د مفت خورو او راحت طلبو ته زجر ورکړي ترڅو اسلامي ټولنه ددې ډول ناوړه کار څخه پاکه شي.

اسـلامي دولت د هغو کارونو له جملې څخه چې مسـئوليت يې په غاړه لري د سـوالگرۍ مخنيوی دی.ځکه په ټولنه کې د سوالگري شتون د ا سلامي حکومت نظام او عدالت تر پو ښتنې لاندې راولي. بل داچې د مستحقو خلکو په بيت المال کې حق دی او که څوک ســوال کوي نو د وخت د حاکم څخه دی وکړي چې بيت المال يي په اختيار کې دی. په حديث شريف کې راځي چې څوک سـوال کوي له حاکم څخه دې وکړي. ( عَنْ سَـمُرَةَ عَنِ النَّبِىِّ -صـلى الله عليه وسـلم- قَالَ: الْمَسَائِلُ كُدُوحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهُ فَمَنْ شَاءَ أَبْقَى عَلَى وَجْهِهِ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ إِلاَّ أَنْ يَسْأَلَ الرَّجُلُ ذَا سُلْطَانٍ أَوْ فِى أَمْرٍ لاَ يَجِدُ مِنْهُ بُدًّا). سنن أبى داود-ن (۲/ ۳۹)

ترجمه:- سوالونه کول زخمونه دي چې زخمي کوي ورباندې سړی خپل مخ ،(يعنې چا ته لاس غوړول خپل عزت او ابرو د خاورو سره خاورې کوي) که د چا خوښــه وي پرې دې ږدي دا زخمونه په خپل مخ باندې او که د چا خوښــه شي پرې دې دې ږدي ، مگر دا چې سوال وکړي سړی د حاکم څخه او يا په دا سې کار کې سوال وکړي چې نه وي چاره دده له هغه نه.

يعنې د هغه حاکم او بادشــاه څخه دې وغواړئ چې دهغه په لاس کې بيت المال دی ، ســوال دې ورڅخه وکړي تر څو ورکړي يې ورته له بيت المال څخه که چيرې مستحق وي.

اسلامي دولت د سوالگرۍ د مخنيوي په برخه کې کولای شي لاندې چارې انجام کړي:

**۱-** د کاري فرصــتونو رامنځ ته کول. د ســوالگرۍ د مخنيوي لپاره اســلامي حکومت کولای شي مختلف کاري فرصــتونه رامنځ ته کړي ترڅو خلک او ځوانان کار وکړي او حلاله روزي ترلاسه کړي.

**۲-** د ســوالگرۍ په برخه کې ځانگړی قانون چې د هغو ســوالگرو لپاره په کې تاديبي جزاگانې پيشــبيني شــوي وي چې پرته له اړتيا سوالگري کوي او د قانون له مخې سوالگري ممنوع اعلان شي.

واقعه:- حضـرت عمر رضي الله د ماښـام له لمانځه څخه يو سـوالگر وليد چې سـوال يې کولو .حضـرت عمر رضي الله يو کس ته وويل : ور شه او سوالگر ته دما ښام ډوډۍ ورکړه هغه کس ورغی او سوالگر ته يې ما ښامی ورکړ. بيا حضرت عمر رضي الله عنه د هغه سوالگر څخه واوريده چې سوال يې کولو.عمر رضی الله عنه هغه کس ته وويل چې آيا تا هغه سوالگر ته ماښامی ورنکړ؟ هغه وويل: بلی! هغه ته مې ماښامی ورکړ. حضرت عمر رضي الله عنه وکتل چې د هغه سړي

**د لاس لاندې لوخی يي له ډوډۍ ډک دی. عمر رضي الله عنه ورته وويل: ته ســوالگر نه يې ، بلکې ته تاجر يې. هغه لوخی يې ورڅخه راواخيســته او دده په مخ کې د صـدقاتو د اوښـانو په مخ کې وشـيندو او هغه په درّه ووهلو او ورته يي ويل : بيادار کار ونکړې.[ إحياء علوم الدين للغزالي ۲۱۱/۴]**

**۳- بايد ټول سوالگر د کوڅو، سرکونو، شفاخانو او مسجدونو څخه راټول شي او د اړمن سوالگر د محترف سوالگر څخه تفکيک شي او ورته ځانکړی ډيټابيس جوړ شي او هغه ســوالگر چې اړمن دي او دکار او کســب توان نلري د بيت المال څخه دې ورته روزي او رزق مقرر شي. -چې خو شبختانه لله الحمد د افغانستان ا سلامي امارت د عاليقدر امير المؤمنين حفظه الله دحکم په اساس ټول سوالگر له ښار او کوڅو څخه راټول شول او د مستحقو سوالگرو لپاره معاش مقرر کړی شو-**

**او کوم کســان چې پرته له معقول او شرعي عذره ســوالگري کوي هغوی ته يو حرفوي او تعليمي مرکز جوړ شي چې په کې دوی ته له يو پلوه کسب او کار ياد کړي او له بل پلوه چې دوی په دې مرکز کې دا زده کړي چې سوالگري ذلت دی او کسب او کار فضيلت .**

**۴- ممکن راټول شوو سوالگرو کې ځينې داسې کسان وي چې فقيران وي او د کسب او کار باوجود فقيران وي، اسلامي حکومت کولای شي چې دوی ته له زکات او عشر صندوق څخه يو څه مقرر شي.**

**کله رسول الله صلی الله عليه وسلم معاذ رضي الله عنه يمن ته د والي په صفت ليږلی ؤ داسې يې ورته وويل:(فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللَّهَ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً فِي أَمْوَالِهِمْ تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ وَتُرَدُّ فِي فُقَرَائِهِمْ) سنن أبى داود-ن (۲/ ۱٦)**

**ترجمه:- د يمن خلک بيا په دې پوهه کړه چې الله تعالی فرض کړی ده ددوی په مالونو کې زکات چې اخيســتل کيږي به له غنيانو او ورکول کيږي به فقيرانو ته.**

**۵-کوم کسان او سوالگر چې مسنين وي او بې هويته وي او کورنۍ نلري دولت کولای شي ددوی لپاره مستقل مرکزونه جوړ کړي.**

**٦- ا سلامي حکومت بايد د هيواد شتمن خلک وهڅوي ترڅو چې د فقيرانو ، کونډو او يتيمانو سرپر ستي او مر سته په غاړه واخلي او دولت دغو خلکو وغواړي چې داسلامي امارت ترڅنگ ودريږي.**

**۷- دا هم ممکن ده چې له بهر څخه د بين المللي مؤسساتو خوراکي مرستې ځينو اړمنو خلکو لپاره تخصيص شي.**